کودتای ننگین هفت ثور ۱۳۵۷ کمونستان را در افغانستان ، تقبیح میکنیم

هفته نامه

دجهاد هنداره

مراة الجهاد

لومړی کال ، ٣٤ گڼه چهارشنبه د ١٣٧٠ هـ ش کال دثور١١

دکابل رژیم هغه ادعا چي دلښکر ایثار غونډ یي نیولي دي ، دروغ ده

لوگر ، میډیا :
دمیډیا خبر رسولو اژانس دقوماندانانو دراډیویی پیغامونو په حواله ویلی دی چی دکابل رژیم عسکری اوملیشه گلمو قواوُدجیټ الوتکو ترچترلاندی دحمل د۲۹ می نیټی راهیسی دمحمد آغی ولسوالی شاوخوا اودتنگی واغجان ستراتیژیکه سیمه کی دمجاهدینو په مورچلونو خپلی حملی توندۍ کړي دي چې ددواړو خواؤ ترمنځ

(٧)مخ کی

دگردیز پر محاصره شوي ښار ددرنو وسلو بریدونه

اتم مخ

PROPERTY OF ACKU

لاهور ته دالحاج مولانا جلال الدین حقاني دسفر لنډ راپورتاژ

دخوست په فتحی سره الله تعالی مجاهدینو ته دومره امکانات په لاس وروستل ، چی هیڅ دنیاوي قدرت له هغو سره دومره مرسته نشوای کولای

الحاج حقاني

دنجیب دکابینی دری تنه غړیو دکاناډاله حکومت څخه دسیاسی پناه غوښتنه کړی

په پیښور کی خپریدونکی یوی افغانی جریدی دکاناډا دیوی ورځپانی په حواله خبرورکړی چی دنجیب دکابینی دری غړیو په کابل کی دکاناډا له سفارت څخه دسیاسی پناهندگی غوښتنه کړی جریده لیکی چی دکاناډا دبهرنیو چارو وزارت یوه لوړرتبه مامور ، داخبره افشاء کړی ده اوویلی دی چی نوموړیو وزیرانو چی نومونه یی ندي افشاء شوی ددی هیواد سفارت ته په پټه خپل غوښتن لیکونه سپارلی .
دیادونی وړده چی پدی ورستیو کی دکابل دمزدور رژیم یوزیات شمیر لوړرتبه مامورین چی دخلق یا پرچم گوند غړی ؤ ، دنړی په بیلا بیلو هیوادوکی پناه اخیستی .

دکابل ولایت په (کاریز میر اوسروبی) کی دمجاهدینو بریالی عملیات

په پیښور کي دقوماندانانو شورا نظامی دفتر ژموږ خبریال ته خبر ورکړی چې :مجاهدینو دثور میاشتی په ٦ مه نیټه په کاریز میر کی درژیم په ځای پر ځای شوو قواو باندی ددرنو وسلو بریدوکړ چی په نتیجه کی یو عراده زغروال ټانك ویجاړ او ١٠ تنه عسکر یی وژلی دي .
دغه منبع په یوه بل خبرکي وایی چی مجاهدینو دثور میاشتی په ٤مه نیټه درژیم پر هغی قوی باندی حمله وکړه کومی چی دمجاهدینو په مرکزونو تعرضی یرغل کړی ؤ.رپوټ زیاتوی مجاهدینوپه دغه حمله کی درژیم یو عراده ټانك او ٢ عرادۍنظامی موټر ویجاړ کړی اویو شمیر عسکراو منصبداران یي وژلی دي.

دبلخ په ولایت کی ورانونکی سیلابونه

بلخ ، میډیا :
په پیښور کی دبلخ ولایت یوه جهادی خبر ځای میډیا ته رپوټ ورکړ چی دسپرلی د پرله پسی بارانونو اودهغی نه دراپیداشوو سیلابونو په اثر چی ددغه ولایت دغره ایزو سیمو څخه دبلخ ولایت د(شولگری) ولسوالی په بیلا بیلو سیمو کی دحمل په ٣١ مه نیټه راکوز شوی ددغه ولسوالی دتگاب اونور سیمو دبزگرانو پنځوس زره هکتاره دغنمو کرونده اونور فصلونه تباه شوی دي .
درپوټ مطابق دغو سیلابونو ددری ره په شاوخوا کی دبزگرانو پسونه،غوایان اونور څاروی هم وژلی اوداستوگنی یو شمیر جونگړی یې وړنگی کړی خو ځانی تلفات پکی ندی رسیدلی .

دحربي پوهنتون دفارغانو دغونډی راپور تاژ

مسلمانان دحربي زده کړي ترڅنگ باید دجگړي په ډگر کي ددښمن څخه ونه ویریږي

(الحاج مولوي نظام الدین حقاني)

٣ مخ

مجاهدین در ولایت غور ٤٥ تن ازملیشه های رژیم رااسیر ویا هلاك ساختند

غور ، میدیا :
نمایندگی (میدیا) درشهر کویته ازولایت غور اطلاع داد که مجاهدین بروز ٣٠ حمل پوسته ها واستحکامات نظامی رژیم کابل درمنطقه (مرغه) ولسوالی شهرك رازیر اتش سلاح ثقیل قرار دادند ، که در نتیجه یکتعداد منسوبین عسکری وملیشه ها به هلاکت رسیده (١٥) نفر ملیشه به شمول یکتن ازصاحب منصبان پوسته مذکور توسط مجاهدین اسیر شدند .
همچنین ازولسوالی (تولك) ولایت غور طی یك گزارش دیگر اطلاع رسیده است بروز (٣٠ حمل) مجاهدین یك قرارگاه قوای نظامی رژیم کابل رادرجنوب شهر تولك تحت اتش سلاح ثقیل قرار دادند که درنتیجه بیش از ٣٠ تن ازملیشه ها ومنسوبین قوای نظامی رژیم هلاك ویا شدیدا زخمی شده اند .

دکابل- حیرتان پرلویه لاره په یو اکمالاتی قطار باندی دمجاهدینو برید

دسمنگانو له ولایت څخه دقوماندانانو دشورا نظامی دفتر ته رسیدلی خبرونه وایی چی مجاهدینو دثور دمیاشتی په ٢مه نیټه درژیم په هغه اکمالاتی قطار باندی چی دحیرتان له بندر څخه دسمنگانو دولایت په لور روان وو یو تعرضی برید وکړ چی دحملی په ترڅ کي درژیم ٦ عرادی په مهماتو بار موټر یې د(BM ٤١) یوی دستگاه سره ویجاړ کړی او ٣ عسکریی وژلی دي همدارنگه (٨) تنه نور یی دوسلو سره ژوندی نیولی دي .
رپوټ وایی چی مجاهدینو په دغه تعرضی برید کی ٤ عرادی باروړونکی موټر دخوراکی اونظامی مهماتو سره نیولی دی .

سرمقاله

روز تجدید پیمان جهاد

دراینجا ازان روز سیاه وغمین تاریخ کشور خود یاد میکنیم که برای کشور ومردم مسلمان ماسخت درد ناك وغم اوراست این روز، هفتم ثور ١٣٥٧ است که کمونست های خاین بوطن ومردم بلستور کمونیزم جهانخوار کرملین طی یك کودتای خونین برقدرت کشور مسلمان افغانستان دست یافتند وازانروز تیغ انسان کشی رابفرمایش باداُنشان درکرملین ازنیام کشیده هزاران انسان هموطن ما رابجرم خداپرستی ودین پروری بیرحمانه وبطرز وحشیانه به شهادت رسانیدند
کمونست ها که اساس عملکرد شان تیوری منحوس مارکسیستی ولیننستی بود به اصطلاح خود شان بخاطر اعمار جامعه فاقد استثمار به ریشه کن ساختن انسان

درصفحه ٨

دخوست دجهادي شورا اعلامیه

٧ مخ

دخوست فتحه دمجاهدینو اوټول اسلامي امت فتحه ده

الحاج حقاني

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقانی

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

سره کودتا او زموږ جهاد

سید شهریار

دګردی اسلامی نړۍ اوپه خاصه توګه چی دافغانستان دمظلوم او بی ګناه مسلمانانو په تیتر ۱۳ کاله وړاندی دغیرواو اغیارولـه لاسه کوم تپ لګیدلی دی تراوسه تازه اوسری وینی تری څڅیږی .

دغه تپ د۱۳۵۷ کال دثور داومی نیتهی دتوری او کرغیړنی کودتا په نتیجه کی رامنځ ته شو چی په ګرد افغانستان یی دوحشت اوبربریت توراوناولی څادر وغوړاوه .

په ظاهره یی دغی بدمرغه حادثی ته دسرراوکارګری انقلاب خطاب کاوه خوپه حقیقت کی دغه ناوړه پیښه دسرورروسانو اودهغوی دهغو مزدورانو چی دهمدغو ستروشیطانانو لخوا دیوه اوږده اومنظم پلان له مخی روزل شوی ؤ دیوه خاص مقصد او هدف لپاره دثور انقلاب په نوم په موږ راوتاپه چی په ټول هیوادکی یی اسلامی وروږګلوی ،اسلامی فلسفی اواسلامی اخلاقو او روایاتوته تیلی ورته کړ اوپه ډاګه یی داسلام مقدس اومبارك دین ته دتوری ارتجاع خطاب ورکړ او ددی په څنګ کی یې په علماو،روحانیونو او سپین ږیرو باندی دغدارانو اوخائنانو تورونه ولګول چی ددغه تور په واسطه یی دهیواد بی شمیره علماء اوروحانیون په ډیره بزدلانه اوبی رحمانه توګه په شهادت ورسول اوورسره یی دهیواد ټولی بندیخانی دهمدغو اشخاصو اوداسلامی مفکوری او عقیدی له ځوانانو څخه ډکی کړی چی لاتراوسه پوری تری ډکی دی او دیوه ظلم سرپه هم نه پری نکوی !

داځکه چی دوی فکر کاوه دکمونیزم عیاشی او فحاشی به له افغانانو څخه د اسلام تاریخ هیرکړی او دهغو محکومو قومونو په څیر چی دخزان وهلو پاڼو په شان دغلامۍ له زنځیروسره یوځای دفنا لوری ته دانګونه وهی ورتیل وهی خو بی له دی چی خوله یی له خاورو ډکه شی بل څه ونه لیدل .

اولاکله چی یی دعلماو دسر پرستۍ لاندی په مخ کی داسلامی انقلاب جهادی مبارزه پیل شوه نو دوی زموږ دغه جهادی مبارزه دخپلو ناولو عزائمو په مخکی له هرڅه نه غټ خنډ وباله ، اودمسلمانانو په ځپلو کی یی لانوره توندی راوسته ترڅو دغه مبارزه په شاکړی .

داسلام دښمنۍ په دغه اوږده موده کی یی له وحشت او بربریت څخه ډکی پیښی رامنځ ته کړی په جوړو جوړو مسلمانان یی فقط دکلمی ویلو په جرم په دار ځړولو ، ژوندی ښخولو،چارماری کولو،شکنجه کولو اوپه خوټیدلو تیلو کی په وراچولو سره له دی فانی دنیا نه رخصت کړل چی هرساعت اوهره ګړۍ ددغو بی رحمه جلادانو ددغه شان په زرګونو پیښو شاهده ده اوهمدارنګه داسعد اباد اوسنی عامه وژنه یی یو ښکاره اوپه ډاګه ثبوت دی.اوس نودخدای پاك دغه دښمنان په کومه خوله له مجاهدینو څخه دهیواد په بیا ودانولو اوجوړولو کی مرسته او کومك غواړی.ایا دهغه چانه چی ۱۳ کاله یی دهیواد په تباه کولو او ورانولو کی رنګارنګ خارجی زهرجنی وسلی استعمال کړی وی،دودانولو اوجوړولو توقع او امید کیدای شی ؟ ددوی دغه رمباړی خودمجاهدینو دهغو تکبیرونو زوردی چی ددوی خولی یی له خاورو ډکی کړی ځکه چی دوی خو هیچیری هم له مسلمانانو څخه دمرستی اوکمك غوښتنه نه وه کړی اسلام یی زړه کیسه اومسلمانان یی

په(۷)مخ کی

دخوست په فتحی سره الله تعالی مجاهدینو ته دومره امکانات ...

دروان کال دثور میاشتی په ۷ نیتهه دپاکستان دپنجاب ولایت په مرکز لاهور کی دجمعیت العلمای اسلام جوړیدونکی غونډی ته دجمعیت دمشر سناتور مولانا سمیع الحق په بلنه دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دخصوصی میلمه په توګه دعوت شوی ؤ .

لدی مخکی هم دپاکستان دپنجاب علماوو- دانشمندانو - ژورنالستانو اوخلکو له خوا دخوست لـه فتحی وروسته څو څو واره هیله څرګنده شوی وه چی دمحترم حقانی صاحب په لیدو مشرف شی اودخوست دفتحی جریان له دوی څخه واوری ددغو هیلو اوغوښتنو په پام کی نیولو لـه مخی محترم حقانی صاحب دخپلو ګڼو جهادی مصروفیتونو سره سره دا سفر غوره کړ اودجمعی په ورځ لاهور ته روان شو .

دجمعی ورځی دمازدیګر په پنځه نیمو بجو محترم حقانی صاحب اودده ملګری دپیښور هوایی ډګر ترمینل تـه ننوتل اوداسی محسوسیدله چی نن دپیښور هوایی ډګر - اوهلته موجود کسان اوحفاظتی عمله دخپل ژوند اوموجودیت په اوږده زمانی واتن داسی څوك ګوری چی ډیر نه لږ موده مخکی یی دخپلی توری اوتدبر له مخی دکفر اواستعمار په ماڼیو یوه نوی زلزله ګډه کړه دیوه نوی دور پاڼه یی اړولی،دیوه نوی باب له مخ څخه یی پرده پورته کړی اویو نوی فصل یی دجهاد اومبارزی په اوږدو کی پرانیستی دی .

نن دپیښور په هوایی ډګر کی دټولو سترګی په یوه نقطه ، یوه څیره اویو شخصیت کی ښخی وی ، ټول نظرونه یوی خواته متوجه وو دټولو په وړاندی دیوه ستر فاتح - یوه قهرمان مجاهد دتوری اوفتحی باب غوړیدلی ؤ .

دټولو په خولو دخوست فاتح جلال الدین حقانی نوم وو چی کتل به دی نو یو بل ته به یی په خبرو کی دخوست دفاتح حقانی نوم اوریده.ددغه ډګرافسرانواو خلکو ددنیا ډیر پادشاهانو - صدراعظمانو - او وزیرانو دراتګ استقبال او سفر ونه لیدلی وو دهغوی دبدبه ، حکومتی اعزازونه اومراسم یی څو څو واره لیدلی ؤ خو نن چی دهغوی په سترګو کی لـه ظاهری دبدبی اوشوکت څخه بی نیازه داسی یو شخصیت دخپل ایمان او عظمت په روحانی قوت ددوی زړونه ، نظرونه اوفکرونه په ځان پسی راکښلی وو چی دنړۍ پادشاهانواوزمامدارانو هیڅکله هم ددوی په زړونو اونظرونو داسی بی تاجه پادشاهی نه وه کړی .

دامنظره - داهیجان - دااحساس اواجذبات دقلم په څوکه دکاغذ پرمخ نشی انځوریدلی، قلم اوتصویریی نشی تمثیلوی یواځی احساس اوجذبات کولی شی دزړونو اودماغونودا انګیرنه خوندی اوانځور کړی .

الوتکی ته په ختلو یو ځل بیاداصحنه تکرار شوه،یو ځل بیا دالوتکی دننه نظرونه یوی څیری اویو شخصیت ته متوجه شول اویو ځل بیا دجذباتو اواحساساتو څپی توپانی شوی،یوځل بیا دخوست دفتحی هنګامه توده شوه ، یو ځل بیا دټولو پام هغه لوری ته ؤ

دافغان ولس دعظمت اوقربانی یادګارونه رامخی ته شول .

الوتکه دفضا په وسعتونو کی مخ په وړاندی تلله خو دناستو کسانو سترګی اونظرونه یو داسی شخصیت په لور کاږه ؤ چی رنګ اوول ول پتهکی اودنګی شملی یی دیوه قام دعظمت یادونه څلول - عقابی سترګو یی دیوه ولس دقهرمانیو او غورځنګوتاریخونه سپړل ، پراخ تهتر یی دحق په لار کی دثبات او تهینګار ژوندۍ بیلګی اودرسونه وړاندی کول غوړیدلی تندی یی د ژوند او مبارزی په کړاوجنو اوترخو شیبو کی دتدبیر، عزم او پولادی ارادی وړانګی څلولی .

دماښام ۸ بجی وی چی الوتکه دلاهور په هوایی ډګر کوزه شوه .

الوتکی ته نژدی دجمعیت العلما اسلام مشر سناتور مولانا سمیع الحق اودپنجاب ګڼ شمیر مخور، پوهان ، لیکوال او ژورنالستان ولاړوو- دپاکستان داطلاعاتو اونشراتو پخوانی وزیر راجه ظفر الحق د تعلیم وزیر سید فخر امام اود پارلمانی چارو وزیر چودری امیر حسین چی هغوی هم په هوایی ډګر کی موجود ؤ دحقانی صاحب استقبال ته ودریدل اودخوست فاتح ته یی ښه راغلاست ووایه .

دلته یو ځل بیا دپیښور دهوایی ډګر په څیر دخلکو په ګڼه ګوڼه کی پوښتنی او شور او زوږ پورته شو ، چا پوښتنی کولی چا دخوست دفاتح نوم اخیست .

چی په ظاهری بڼه یو درویش هلته داسلام دعظمت اوفتحی یادونه سپړل خو په حقیقت کی یی دروس اووارسا دپوځی ځواك په تهتر کی دحق جوهر داره توره ښخه کړی وه .

خبریالانو،مسافرو،په مخه ښه کوونکو اواستقبال کوونکو ټولو دده خواته مخه ونیوله دټولوپه خولو،زړونو داخبره ګرځیده چی دغه درویش مجاهد دی دکمونیزم دوحشت اواستبداد هیولا دړی وړی اودظلم اواستبداد ماڼۍ یی له بیخه ونړولی .

هو ! نن دخوست فاتح داسلام دبرم اوعظمت دلاری سپه سالار ددوی په وړاندی ولاړؤ اودوی دهغه په لیدو دخوښۍ اوحیرانتیاپه څپولاهو ؤ.

حقانی صاحب دخوست دفتحی په رابطه هغوی ته لنډتوضیحات اوپلدی اړه یی دهغوی پوښتنو ته ځوابونه ورکړل .

لدغو شخصیتونو سره له لنډ ملاقات وروسته خبریالانو دمرکی هیله څرګنده کړه ، دلاهور دجنګ ورځپانی نماینده له حقانی صاحب څخه دخوست دفتحی اوهلته دمجاهدینو دخپل منځی تعلقاتو په رابطه پوښتنی وکړی حقانی صاحب په ځواب کی وویل :

مجاهدین پخپلو منځو کی متفق دی - دجنګ په قومانده اوجریان کی هغوی څه مشکلات نلری په خوست کی مجاهدینو دیوه مثالی اتحاد لـه مخی دغه ستر بریالیتوب تـه ورسیدل دمجاهدینو اوقوماندانانو په منځ کی اختلاف نشته که اختلاف وی نو هغه به دسیاسی لیډرانو په منځ کی وی ...

له یوی لنډی مرکی وروسته دسناتور مولانا سمیع الحق له خواپه شوی میلمستیا کی دګڼون له پاره دموټرو دیوه ستر جلوس په بدرګه روان شو، لـه ماښامنی وروسته مو شپه دشان اسلام جومات لـه وروڼو سره تیره کړه ، سهار یی له لمانځه وروسته په یوه مختصر پروګرام کی حقانی صاحب ته دوینا بلنه ورکړه :

حقانی صاحب په لنډو ټکو کی دخوست دفتحی او دمجاهدینو دراتلونکی جنګی حکمت عملی په

پاتی(۵)مخ

الحاج مولوي نظام الدین حقاني دخوست دفتحی اودحربي پوهنتون دفارغانو په غونډه کی وویل :

مسلمانان دحربي زده کړې ترڅنګ باید د جګړې په ډګر کې ددښمن څخه ونه ویرېږي

دحمل په ۱۹ مه نیتېه په میرامشاه کی دخوست دفتحی او دعبدالله بن مبارك (رض) دحربی پوهنتون دلومړی دوری فارغانو ته دفراغت

دسندونوورکولو له امله یوه غونډه جوړه شوی وه چی دغی غونډی ته دمولوی صاحب نظام الدین حقانی په ورسیدو دحربی پوهنتون د قوماندان په مشری نظامی تشریفات ترسره شول. په دغه غونډه کې دالحاج مولانا جلال الدین حقانی مرستیال مولوی نظام الدین حقانی په شمول دیرو مجاهدینو ، مهاجرینو اوانصارو ورونو ګډون کړی ؤ ، دمراسمو په سرکی دیوه تن محصل له خوا دغونډی اجنډا ولوستل شوه ،اودقرانکریم دځو آیتونو په لوستلو سره پیل شوه دتلاوت څخه وروسته دحربی پوهنتون قوماندان عبدالخالق دغونډی ګډون کوونکو ته په خپله وینا کی وویل :

بسم الله الرحمن الرحیم

ډیرو محترمو حاضرینو ورونو

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

دحربی پوهنتون دپاره نن دډیری خوشحالی او ویاړ ځای دی چی په دغه مبارکه میاشت کی یو تعداد ورونه دافسرانو په توګه خپلی اسلامی ټولنی ته وړاندی کوی ، ترټولو دمخه خو لازمه داوه چی ما ورونو او درنو حاضرینو ته په دی مبارکه اوعظیمه میاشت کی دخوست دفتحی مبارکی ورکړی وای دحربی پوهنتونونو جوړول په ټوله دنیا کی یو هدف لری ، په جهادی سطحه ورونو ته بهتره معلومه ده چی جمعیت اسلامی افغانستان ، حزب اسلامی افغانستان ، اتحاد اسلامی افغانستان او همداراز دمولوی صاحب جلال الدین حقانی له خوا حربی پوهنتونونه جوړشوی دي ، چی ددغو حربی پوهنتونونو څخه هدف دادی چی دجهاد په لیکو کی په نظامی لحاظ سره لوړ-والی راشی

دعبدالله بن مبارك (رض) حربی پوهنتون په ۱۳٦۷ هـ ش کال کی تاسیس اولومړی دوری ته یې چی همدااوس دفراغت سندونه ورکول کیږی تعداد یی ۱۱٤ تنه دی .

په ډیر افتخار سره ویلی شو چی دعبدالله بن مبارك (رض) حربی پوهنتون څخه دزده کړی په وخت کی دجهاد په سنګرونو کی څلور تنه شهیدان ، یو معیوب اویو ویشت تنه ټپیان شویدی شهیدانو ته دی الله (ج) دنورو مجاهدینو سره جنت فردوس وریه برخه کړی اوکورنیو ته دي خدای (ج) صبر ورکړی.

په دي حربی پوهنتون کی دمسلکی زده کړی ترڅنګ اسلامی مضامین هم تدریس کیږی

او په موجوده امکاناتو لرلو فعلاً څلور پوهنځی لری چی عبارت دی له پیاده،توپچی ، مخابره اواستحکام څخه .

ورونو که داسلام تاریخ ته نظر واچوو داسلام ډیر سپه-سالاران تیر شوی دي دهغو په جمله کی خالدبن ولید هم په خپل ځای کی یو لوی نوم لری چادولری چی کله تاسی ټولنی ته وړاندی کیږی دکور دنفقی په خوا کی داسلام اومسلمانانوخدمت په تاسی فرض دی خدای(ج) دي وکړی چی دجهاد په سنګرونو ستاسو هریو څخه خالد بن ولید جوړشی .

دحربی پوهنتون دقوماندان دوینا وروسته غونډی‌ته‌راغلی یوقدرمن میلمه مولانا فضل الرحمن څخه غوښتنه وشوه چی دغونډی ګډون کوونکو ته وینا وکړی ، دجمعیت العلما مشر مولانا فضل الرحمن په خپله عالمانه وینا کی وویل :

زه دقوماندانانو شکریه ادا کوم چی ماته یی بلنه راکړه

اودغه سعادت یی زما نصیب کړ زما راتلل په حقیقت کی دخوست دتاریخی فتحی په هکله داسلام ستر مجاهد مولانا جلال الدین حقانی صاحب ، ورسره قوماندانانو اومجاهدینو ته مبارکی

ورکول وو ، زه یو ځل بیا په دغه لویه اجتماع کی تاسو ټولو مجاهدینو ته دخوست دفتحی مبارکی وایم .

کله چی په افغانستان کی کمونستی کودتا وشوه ، نو داافتخار جمعیت العلما اسلام ته حاصل دی چی دجمعیت العلما اسلام قاید زماوالد حضرت مفتی صاحب (رح) دپاکستان ټول اسلامی قوتونه راغونډاویه دی خبره یی متفق کړل ، چی دافغانستان جهاد تائید کړی ، په دې ملك کی دااولنی اواز ؤ چی ددی جهاد دپیل سره په دې وطن کی پورته شو اوټولی اسلامی نړی ته یی ددی جهاد دملاتړ اپیل وکړ ، دهغی ورځی څخه دپاکستان

مسلمانانو افغان مجاهدینو اومهاجرینو ته ځای ورکړ .

نن هم زموږ دپاره دویاړ خبره ده چی دجمعیت العلما اسلام وینه په دی جهاد کی شریکه ده ،

داداسلام فتحه ده اودنړی دټولو مسلمانانو سرونه په دغی فتحی سره اوچت دي ،الله (ج) دی تاسو ته بری اوفتحه درکړی، الله تعالی دی اسلام ته فتحه اوکامیابی ورکړی ،الله تعالی دی افغانستان ازاد کړی دجمعیت العلما اسلام وینه تاسو سره ګډه ده اوتاسو سره ملګری دي ،الله تعالی دی زموږ ټولو حامی اوناصرشی.

دمولانا فضل الرحمن څخه وروسته دخبرو نوبت مولوی صاحب نظام الدین حقانی ته ورسید ، چی مولوی صاحب په خپلو خبرو کی دحربی پوهنتون دارزښتونو اودخوست دفتحی په باره کی په مفصل ډول رڼا واچوله ، چی موږ یی دلته یوه برخه رااخلو .

دتعوذ ، تسمیه ، اوسورت فاتحی لوستلو څخه وروسته مولوی نظام الدین حقانی خپله وینا په لاندی ډول پیل کړه :

دټولو څخه دمخه راغلو میلمنو ته هرکلی وایم ، دغه غونډه ددوومطلبونو دپاره جوړه شوی ده یو داچی دحربی پوهنتون دلومړی دوری فارغینو ته بری لیکونه ورکول کیږی اوبل وایی اوددغی سورت لفظی زده کول اوددی سورت په مفاهیمو ځان پوهول په ټولو مسلمانانو لازم دي .

مولوی صاحب نظام الدین حقانی دسورت فاتحی دتفسیر په یوه برخه کی وویل چی مسلمانانو باندی دجنګی زده کړو تاکید شوی دی اودحربی زده کړو په څنګ کی باید مسلمانان دجنګ په میدان کی ددښمن څخه ونه ویریږی .

مولوی نظام الدین حقانی دحربی پوهنتون اوحربی زده کړو رول داسلام له نظره ښه وڅیړه او دحربی پوهنتون استادانو ، محصلینو اودغونډی ګډون کوونکو ته یی په دی برخه کی پوره معلومات ورکړل اودخوست فتحه یی دمجاهدینو دوحدت

او یووالی ثمره وګڼله او هم یی دمجاهدینو په اتحاد ډیر تاکید وکړ .

دغونډی په پای کی دعبدالله بن مبارك (رض) دحربی پوهنتون دلومړی دوری فارغانو ته دحربی پوهنتون دقوماندان له خوا هغه شهادتنامی چی دقوماندانانو دسرتاسری شورا دخوست دفتحی په مناسبت، لـه خوا برابری شوی وی کوم سورت چی ماتلاوت کړ ،ورکړل شوی . دغه سورت ته سورت فاتحه

روز تجدید پیمان ...

این است نمونه برازنده خواست مردم مسلمان افغانستان بعد از سیزده سال جهاد مقدس در امر حراست ازدین الهی واستر داد استقلال کشور از اشغالگران روسی .

مردم ما درین روزبار دیگر درپیشگاه خداوند بزرگ سوگند خود را تجدید می کنند که تاهنگام محو کامل کمونست هاو نظام کمونستی درکابل وبرقراری یك نظام کاملاً اسلامی به جهاد خریش ادامه دهند وازانجایکه نیات ما پاك ومقدس است لذا اراده ولطف خداوند بزرگ شامل عمل پاك ما بوده واین امر اطمینان قوی برای پیروزی قاطع وکلی اینده مردم ما در برابر دشمن بی دین میباشد .

یو پټ غلی احساس دی چې ارام مې نه پرېږدي
په اور مې کړوي لکه چې خام مې نه پرېږدي
جرأت مې زياتوي دومره په ځان يمه پوی شوي
غافل له خپله حقه او غلام مې نه پرېږدي
(گل پاچا الفت)

دخوست فتحه

عبدالباری غیرت

په خوست باندی دفتحی چی کوم لمر ختلی دی
جهان ته داد امن نیك خبر ختلی دی
دسیمی فتحه نه ده بلکه ټول افغانستان ته
کوکب دازادۍ دی سراسر ختلی دی
دخوست له سپیرو دښتو نه دعطروبوی رادرومی
قدم دمجاهد پری بختور ختلی دی
پیغام یی ټول جهان ته دمظلومو دبری شو
دعدل لوی امام چی په منبر ختلی دی
دظلم اوبیداد قافلی ټولی لوټ اومارشو ی
زړگی دکمونستو په مجمر ختلی دی
دی خاوری بیا تازه کړل داسلام ماضی دورونه
دحق دمجاهد چی پری لښکر ختلی دی
شیطان که شو زړه چاودی دخندق بد ر غزا کی
زموږ په معرکه کی درېه در ختلی دی
چی میاشت دروژی ودریده‌دزیری په درشل کی
خوښی کړی خوشحالی کړی چی اخترختلی دی
جهانه داسلام وربانـدی ونازه وویاړه !
داستوری چی دفتحی اوظفر ختلی دی
غوتۍ دارزوگانو همدااوس په سپړیدودي
کاروان دامیدونو په خیبر ختلی دی
له وور ځخه ترزوړ پوری افغان راپاڅیدلی
ناری دتکبیرودی شور اوشرختلی دی
احساس دی اوجذبه ده داصیل فکر ملگرو
په زړه کی می دمینی یو شرر ختلی دی
له مرگه بی پروا دی مجاهد دخدای په لار کی
دفتحی په مورچل چی زړور ختلی دی
داسره بیرغونه به راښکته کړی که خدای کا
چی توغ یی سپین رپاند په اشنغر ختلی دی
حلقوم یی عفاریت دشرق اوغرب رالړزولی
اواز چی تری دالـله اکبر ختلی دی
په لاره داسلام کی چی ایثار لره وردانگی
هغه دخدای په وړاندی مخور ختلی دی
دخوست دغه بری موږ نیك شاگوم گڼلی ځکه
چی فتحی دکابل لره یې ورختلی دی
ټرون دوارسامات شو دکمون موگ دی راغلی
په هرکونج ددنیا کی یی وزرختلی دی
قصاص دپولیگان دکشتارونونه دی څه دی ؟
له نس دمحلدانو چی خنجر ختلی دی
دنوح بیړۍ ته وخیژه رښتیا که مسلمان یې
دحق دپلویانو سمندر ختلی دی
اعجاز نه دی نو څه دی لړدزړه په سترگو گوره
اقبال دمجاهد په بحر اوبرختلی دی
بهار دازادۍ دی ابشارونه دي بهیږی
نسیم هم پری دپاسه معطر ختلی دی
لاله دی ټوکیدلی په فارم باغ اوملیزی کې
په لکه مرغزه کی صنو برختلی دی
کوکرك اوپه سیکی اویعقوبی کې دي جشنونه
په باك کې ددښمنو بال اوپرختلی دی
عجیبه فضا ښکاری سپینی واوری سره گلونه
زیړی لمر یې له غرو نه شغله ورختلی دی
غرزا ده دتوپونو زمکه ټوله لاندی خوځی
دپاك خدای قهرمان چی په سنگر ختلی دی
غوغایې په هرلورشوه چی دفتحی غریې واورید
نجیب زیون‌وهلی او اوترختلی دی
حیران یمه داسوبه چی په څه شان یې تعبیر کړم
دالمردی دبریو که قمر ختلی دی
جهادته چی روان وی ولسونه ورپسی وی
معراج دنیکمرغۍ ته دارهبر ختلی دی
دخدای شکر اداکړۍ چی توفیق یی راته راکړ
جهاد مو په زړه پوری باثمر ختلی دی
آزاد افغانستان می ای غیرته خوب کی ولید
تعبیری هر مؤمن ته معتبر ختلی دی
۱۳۷۰/۱/۲۷

تکل ... سپرلیه !

هاشمی

منم چی په راتلو دی مړژوانده طبیعت په وجود کی ساگرځی اودخزان سیلیو ځپلی شنیلی راټوکیږی ...!

دابه هم درسره منم چی دژوندانه په بهیر کی انسانی ټولنی ته دخوښیو اورنگینیو پیغام راوړی او ... که زه دی له ښکلاو ، رنگینیو اوښیگڼو څخه سترگی نشم پټولای ، نوداحق خولرم چی وپوښتم ! ستاداخوښی اورنگینی دچالپاره دی ؟

دهغه چالپاره چی په دی بی رحمه نړۍ ځوریدلی - دردیدلی اوکه له کړاوه ډك ژوند تیروی !

دهغه چالپاره چی هوساینه اوسوکالی نه پیژنی !

دهغو لپاره چی دیو نامعلوم برخلیك (سرنوشت) سره مخامخ دی !

دهغه چالپاره چی تل یی پرحقوقو اوپلرنی ټاټوبی دنورو له خوا بلوسیدنی شوی !

دهغو لپاره چی دهیواد هرڅه یی دځو ملحدو ځان غوښتونکو اوپردیو مزدورانو له غوښتنو اوشومو هیلو څخه قربان شوی !

اوکه دهغه چالپاره چی ...

معلومه خبره ده چی:

نه !

اوداځکه چی :

ته به هغوی څنگه خوښ کړی چی دخپلوانو، دوستانو اوهیوادوالو په شهادت ژوبله او بیلتانه یی زړونه دریدلی اوځوریدلی وی .

ته به هغوی څنگه خوښ کړی چی دخپلو مادی اومعنوی شتمنیو دلوټیدو اوتالان صحنه یی دسرپه سترگو لیدلی وی .

ته به هغوی څنگه خوښ کړی چی دپردیو اواغیارو په لاس یی دهیواد ،کلی ،بانډی اوښارونه په کنډوالو بدل شوی وی .

ته به هغوی څنگه خوښ کړی چی دملحد اوبی دینه دښمن دزور زیاتی له امله یی دخپل پت اوناموس دخوندی ساتلو په خاطر دخپل کور اوکلی پریښودو ته اړشوی وی .

ته به هغوی څنگه خوښ کړی چی له خپل خواږه هیواد نه لری په وچو دښتو اومیرو کی ترخیمو اوکوډلو لاندی دهجرت ستونزور ژوند تیروی .

ته به هغوی څنگه خوښ کړی چی داوړی سوځنده گرمیو اودژمی بی رحمه سیلیو (بادباران) ځورولی اوځپلی وی .

ته به هغوی څنگه خوښ کړی چی دهجرت په چاپیریال کی هم دوحشی اوملحد دښمن دډول ، ډول دسیسو اوتوطئو په لړ کی

په (۷)مخ

فریاد ...

شفیقی

چی دحسن پلوشی به راخپری شوی
چی سمسوری به موښکلی سردری شوی
چی بهاربه جادوگر نسیم راوالوت
په خندا به په گلبڼ کی شگوفی شوی
چی هوس به تخنول د ځلکو زړونه
چی آسمان او ځمکه ټول به ترانی شوی
هره خوابه ووگلونه غوړیدلی
سمه غرونه به دسروگلو باغچی شوی
طبیعت به له مستیو دیوانه شو
سپیرۍ دښتی به دگلو قافلی شوی
په وطن به دښکلا توپان راگډ شو
لاتودی به دژوندون مستی نغمی شوی
ننگرهار به جامه واغوسته دحسن
راخوری به دنارنج دگل وږمی شوی
زړونه روغ وو،تماشی وی،هنگامی وی
بیابه هلته دنارنج دگل میلی وی
خواوس هلته نه گلونه دبهارشته
نه سمسوری سردری نه لاله زارشته
کنډوالی دی په اورسویی‌بربم ورانی
نه پرگلو دبلبلو چغهارشته
نه دحسن پلوشی دی پکی پاتی
په وطن کی نه همغسی خومار شته
له واخانه تر هراته ټولی شاړی
نه پرون غوندی لغمان نه کندهار شته
دتهذیب دعوه دارانو هرڅه لوټ کړل
نه گلونه شته ، نه بڼ شته نه مالیارشته
ټول وطن مو هدیری دی ، کنډاوالی دی
نه گودرشته دی نه مینی شته نه یار شته
سوی کړیږی دی ،زگیروی دی اوسلگۍدی
گلان نشته خواورسوی ننگرهارشته
اوس چی غږله ستونی ووزی نو فریاد شی
ویرددین شی دناموس شی دهیوادشی
اوس په هغه رویایی وطن کی پاته
په بهارکی هم هغه سپیره خزان دی
بس دویر په سکوت پوب دی سرترپایه
که پکتیا ده که وردگ دی که بامیان دی
که نیمروز دی که غزنی دی او که غوردی
که کابل دی که لوگر اوکه پروان دی
دلته هغسی وحشی قاتلان راغلل
چی چنگیز ورته په قبر کی حیران دی
نه روغ زړونه شته چی وکړی هوسونه
نه دچاپه زړه کی پاتی دومره توان دی
دروند تغر دیوه درانه ماتم خورشوی
ټول ویرجن یو که مو زوړ دی اوکه ځوان دی
پل په پل مو ککرۍ دی خښنی شوی
درست وطن موله یوی مخی گورستان دی
پردې سیمه گړه هغسی مرگوشوه
چی نړۍ یی له ماتمه په سلگو شوه

دخوست په فتحی سره الله تعالی مجاهدینو ته دومره امکانات ...

مجاهدین پخپلو منځو کي متفق دي دجنګ په قومانده اوجریان کي هغوي څه مشکلات نلري په خوست کي مجاهدین دیوه مثالي اتحاد له مخي دغه ستر بریالیتوب ته ورسیدل

رابطه وویل :

دخوست فتحه دمجاهدینو اوټول اسلامی امت ډیره ستره فتحه او سوبه ده .

کوم جنرالان اولوړ رتبه پوځیان چی مجاهدینو نیولی هغه ورځ په ورځ دمجاهدینو داخلاقی اواسلامی روش له مخی واقعیتونه بیا مومی درژیم له پالیسو اوپلانونو څخه پرده پورته کوی اوداوایی چی که موږ داسی خبر وای لدی مخکی به خپله مجاهدینو ته تسلیم شوی وو دادالله تعالی حکمت دی چی کله ناکله له خپلو بندګانو اومسلمانانو سره دکفارو اوددوی ددښمنانو په واسطه مرسته کوی ، په خوست کی همداسی وشول اودکفارو په لاس جوړه شوی وسله اوامکانات الله تعالی ددوی په واك کی ورکړل اوله همدی لاری مجاهدینو ته دومره امکانات اووسایل په لاس ورغلل چی هیڅ دنیاوی قدرت دومره مرسته له مجاهدینو سره نه شوی کولی. که له مجاهدینو سره چا مرسته کوله هم،نو په یوه برخه کی به یی کړی وه خودخوست په فتحی سره الله تعالی له مجاهدینو سره په هره برخه کی مرسته وکړه خوست ډیره لویه منطقه ده چی مساحت یی له کویټ څخه زیات دی او دوسایلو له اړخه دټول هیواد په سطحه ډیره غنی اوپراخه سیمه ده .

حقانی صاحب په خپلو خبرو کی وویل :

ورونو ! دمجاهدینو جهاد دالله تعالی په فضل بریالی پر مخ روان دی ،دخوست له فتحی وروسته په ټول هیواد کی یو نوی جهادی تحرك اوخوځښت پیدا شو، په ډیرو برخوکی پر دښمن دری حملی پیل شوی اودمجاهدینو ډیری فتحی په برخه شوی .حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل :

موږ دراتلونکی له پاره پر نورو ستراتیژیکو ځایونو دحملی پلان ترلاس لاندی لرو امید دی چی ډیر ژر دهمداسی یو مخیزو او مشترکو عملیاتو له لاری مجاهدین ګردیز ، غزنی او لوګرهم فتحه کړی .

دشنبی په ورځ په جامعه عثمانیه کی دجمیعت العلمای اسلام په غونډه کی حقانی صاحب دخصوصی میلمه په توګه برخه درلوده له غرمی مخکی په لسو بجو کله چی حقانی صاحب دجامعی انګړ ته ننوت دهرکلی کوونکو له خوا یی امام شامل ثانی،فاتح خوست جلال الدین حقانی ، جلال الدین حقانی زنده باد په نارو ډیر دروند اوتود هرکلی وشو حقانی صاحب لومړی دجامعی جومات ته ولاړ اوله دوه رکعته لمونځ وروسته یی دجامعی ددارالافتاء شعبی څخه کتنه وکړه هلته یی دپنجاب دګوټ ګوټ له علماوو سره خبری وکړی اودخوست دفتحی اودالله تعالی دغیبی نصرت اومرستی په هکله یی توضیحات ورکړل .

په یوولسو بجو چی غونډه شروع کیده داناسرله خوا مسلسل به غونډه کی دااعلان کیده چی دادپنجاب دخلکو ډیر افتخار دی چی دخوست فاتح امام شامل ثانی جلال الدین حقانی دهغوی په بلنه دلته تشریف راوړی دپنجاب علمااوولس حقانی صاحب ، دده مجاهدینو، افغان مجاهد ولس اوټول امت ته دخوست دفتحی مبارکی وایی اوپه افغانستان کی داسلامی حکومت دقیام دعا کوی .

په غونډه کی دپنجاب دهری ضلعی نماینده ګانو اوامیرانو خبری وکړی دغونډی لومړی برخی په پای کی مولانا سمیع الحق ستیج ته راغی اوالحاج مولوی جلال الدین حقانی دژوند،شخصیت علمی مقام اومبارزی په هکله یی په لنډو ټکو کی وویل :

دازموږ ډیره ستره نیکمرغی ده چی داسلام دیوه سترسپه سالار اوجنرال دخوست فاتح امام شامل ثانی حضرت مولانا جلال الدین حقانی چی پدی نږدی کی یی دخپلو نورو فتوحاتو په سلسله کی دخوست دفتحی ویاړهم ګټلی زموږ په غونډه کی برخه اخیستی اوعالمانه ویناکوی .

خوست چی په کوچنی مسکومشهورؤ، اودنجیب له پاره یی حیاتی ارځښت درلود دامت دهمدغه عظیم جنرال دتوری اوتدبر په برکت فتحه شو، نن دهر ځوان ، هریوډا اوهرماشوم په خوله مولانا جلال الدین حقانی نوم ګرځی .

ده په حقانیه دارالعلوم کی زده کړه کړی اوهلته مدرس پاتی شوی. ١٤ کاله دجنګ په سنګرونو کی او داور په لمبو، دباروتو په بوی ، دګولیو په باران کی دالله تعالی په حضورکی په سجده پروت دی.

سناتور صاحب وویل: دافغانستان جهاد دعلمای حق په لارښوونه پیل شوی جمعیت العلمای اسلام محترم حقانی خپل وجود ګنی جمعیت پولی اوسرحدونه نه منی ، دی زمادوالد محترم مولانا عبدالحق (رح) مخلص شاګرد اونږدی ملګری پاتی شوی چی په ډیره سختی اوبی سراوسامانی کی یی په تش لاس جهاد شروع کړی اودادی اوس یی دکمونیزم بنیادونه ونړول ، دخوست په معرکه کی دامریکا او روس دواړو موقف یوډول ؤ ،خوده دروس اوامریکا ټولی توطئی له خاورو سره خاوری کړی .

مولانا سمیع الحق وویل :

زه جناب حقانی اودده ملګرو ته ښه راغلاست وایم او داواړ ورکوم چی جمعیت اوعلمای حق ستاسی په څنګ کی دی ستاسی حکم او هدایت ته سترګی په لاره دی .تاسی چی څنګه حکم کوی موږ هری قربانی ته تیاریو .

کله چی مولانا سمیع الحق له حقانی صاحب څخه دوینا دعوت وکړ .

یوځل بیا دامام شامل ثانی فاتح خوست جلال الدین حقانی چیغو څمکه اوفضا په سرواخیسته حقانی صاحب له حمد او ثنا وروسته په خپله اوږده اوعالمانه وینا کی وویل :

محترموورونو !

لومړی زه له تاسی درنو علماوو څخه مننه کوم چی پدی غونډه کی تاسی څو څو واره دافغانستان دجهاد ملاتړ اعلان کړزه تاسی ټولو ته دعزت،مغفرت اوسعادت دعا کوم .

درنو ورونو!که څه هم وخت کم دی بیا به هم په لنډه توګه دافغانستان دجهاد په رابطه تاسی ته معلومات درکړم .

ورونو! دافغانستان له جهاد څخه مخکی دجهاد نوم دځمکی په سر عنقا ګرځیدلی وو ، په افغانستان کی دروسانو مزدور اوګوډاګی حکومت اوبیا روسانو سره مقابله له عقل څخه لیری اوداسبابو له مخی ناممکنه ګڼل کیده خو دالله تعالی په فضل مجاهدینو په تش لاس ددښمن په وړاندی مقابله پیل کړه .

اودالومړی ځل ؤ چی په‌نننی عصر کی دجهاد باب پرانیستل شو چی داټول دالله تعالی دهدایت توفیق اونصرت نتیجه ده .

درنو ورونو! موږ ددینی علومو دتحصیل ډیره برخه په حقانیه دارالعلوم کی تیره کړی اوشیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق (رح)دلارښوونو او هدایاتو په رڼا کی مو په خاصه توګه په تفاسیرو او احادیثو کی دجهاد متعلق مباحث شخصاً لدوی څخه لوستی دهمدی برکت وړانګی وی چی زموږ په زړونو کی دجهاد جذبی ځای ونیو اوموږ ته یی دجهاد توفیق راکړ ، داداسی وخت ؤ چی په افغانستان کی حالات داسی وو چی داسلام او دینی علماوو پرضد څرګند او مخالفانه حرکتونه روان وو تردی چی په لینن یی درود وایه او دپیغمبر(ص) په مقام کی یی العیاذ بالله توهین امیزه ټکی استعمالول .

په همداسی تاوجنو شرایطو کی موږ له حقانیه دارالعلوم څخه فارغ شوو پدی وخت کی په پاکستان کی انتخابات روان ؤ موږ دحضرت مولانا عبدالحق په پلوی انتخاباتی مبارزه وکړه لدی وروسته هیواد ته ستانه شوو اوهلته مو دکمونستانو پرضد چی دروس اودهغه وخت دحکومت دواړو له پلوی څخه برخمن وو فعالیت شروع کړ .

پدی وخت کی زه حج ته ولاړم هلته می دعا وکړه چی یا الله ماته ددین دخدمت دهغه نږدی اولنډی لاری دانتخاب اوپرهغی دعمل اوتلو توفیق راکړی .

ښایی ووایم چی له فراغت وروسته متصل دمولانا عبدالحق (رح) دشفقت له مخی هلته مدرس وټاکل شوم اوددوی دا خواهش ؤ چی زه په حقانیه کی تدریس ته دوام ورکړم ، خو زه بیا افغانستان ته ولاړم اودکمونستانو پرضد می خپل جد اوجهد ته ادامه ورکړه دعوت مو پیل کړ .

اوددینی مدرسو بنسټ مو کیښود .

بیا چی کله جهاد شروع شو زه به کله ناکله دمولانامرحوم په خدمت کی حاضریدم دوی به ویل : زه اوس ضعیف اوکمزوری یم په عملی جهاد کی دګډون توان نلرم خو څرنګه چی دهر دینی عمل له پاره خلیفه اونائب موجود وی.

ته دافغانستان په جهاد کی زما قایم مقام اونائب یی دافغانستان دجهاد په رابطه به دوی له ماسره مجلس دومره اوږد کړ چی دسختی ناروغی په حالت کی به هم داسی معلومیده لکه چی ټول تکلیف اودرد یی له وجود څخه وتلی او هیر کړی وی .

له ډیرو سترو سیاستمدارانو سره به یی دومره خبری نه کولی خو چی له موږ سره به یی ملاقات شو بیا نو به زموږ مجلس او خبری دومره اوږدی شوی چی زیاتره وخت به موږ حیا کوله چی هسی نه دده دتکلیف باعث نه شو خو پده دفرحت اوخوښی وخت هغه ؤ چی له موږ څخه به یی دجهاد خبری اوریدلی.

حقانی صاحب دخوست دفتحی په رابطه وویل :

ورونو دخوست له فتحی وروسته به ډیر خلك دعوی کوی اودځان په ګټه به تبلیغات کوی خودجنګ پلان او نقشه دهغو بیوزلو مجاهدینو له خوا جوړه شوی اوهغو مجاهدینو ددی جګړی پلان ګذاری کړی چی سیاست نه کوی دسیاسی اقتدار مینی او هوس یی په زړونو کی نشته دی،خو هغه څوك چی اوس ددی جګړی دعوه کوی هغه وخت یی دجګړی مخالفت کاوه ویل به یی چی لدی هم دجلال اباد جګړه جوړیږی دافتحه امکان نلری ، په داسی حال کی چی دخلیج اوپاکستان کومکونه هم قطع شوی نو په خوست جګړه مجاهدینو ته ضربه ورکوی .

خو موږپه خپله پلان ګذاری اوپروګرام جوړونه کار شروع کړ .

اونږدی څلور میاشتی موپدی کار وکړ او دروژی د مبارکی میاشتی په لومړی نیته مو جګړه پیل کړه .

محترمو ورونو !

دجنګ له پیل نه مخکی په دښمن سخت رعب لویدلی ؤ دښمن ١٦ جنرالان دغه جنګ ته راوستلی اوډیر زیات قوت یی دلته متمرکز کړی وو .

ددښمن ٨٠ ټانکونه دمجاهدینو ٩ ټانکونو چی دوه یی غیر فعال وو په مخه اخیستی وو .

دجګړی په دوهمه ورځ چی دښمن ډیره سخته بمباری کوله موږ دعا وکړه چی خدایه ته هواخرابه کړی چی الوتکی لدبمباری،اوکوزیدو څخه پاتی شی همغه ؤچی وریځ خپره شوه اوددښمن هوایی قوت له فلج کیدو سره مخامخ شو .

حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل :

موږ له جمعیت العلما څخه ممنون یو چی دوی بیله کومی سیاسی ګټی دافغان جهاد مرسته کړی په تیره دمولانا سمیع الحق موقف ډیر دستاینی وړدی ،جمعیت زموږ دموقف تائید وکړ،موږ په راتلونکی کی هم ورته پدی لار کی دتوفیق دعا کوو .

خو زه یو پیشنهاد هم لرم اوهغه داچی :شریعت په نارو نه نافذ کیږی داکارعملی جد اوجهد غواړی ، تاسی باید فعالی اداری اومرکزونه ولری.

یو منظم جهادی تحرك جوړکړی،دافغانستان جهاد ستاسی له پاره طلایی موقع اوچانس دی ، موږ که جهاد نه وی پیل کړی په شعارونو مو دروسانو مقابله نشوی کولی ، تاسی بایدمتحد شی او دجهاد له پاره یو تنظیم جوړکړی اودکشمیر او هندوستان دمظلومو مسلمانانو دازادی له پاره

پاتې په (٦) مخ

دخوست په فتحې سره الله تعالی مجاهدینو ته دومره امکانات . . .

تحریکونه جوړ کړی اوداتحریکونه دکشمیر ، هندوستان اوافغانستان دمسلمانانو په طرفداری استعمال کړی .

واخر دعونا ان الحمد لله رب العالمین

دغونډې په پاي قطعنامه واورول شوه چې په یوه برخه کې یې راغلي ؤ .

... جمعیت العلماء اسلام دخوست فتحه ټول اسلامي امت دخوست فاتح عظیم جنرال مولانا جلال الدین حقاني او افغان ولس ته مبارکي وایي اودعا کوي چې الله تعالي دي دخوست فتحه دټول افغانستان دفتحې اوازادۍ اودمجاهدینو دحکومت دتهینګښت زیرې وګرځوي.جمعیت دپاکستان له حکومت څخه په کلکه غوښتنه کوي چې دافغانستان په هکله دوه مخې سیاست پریږدي اودمجاهدینو پر ضد دشرق او غرب دروانو توطئو مخه ونیسي اوپدې اړه پیاوړی موقف غوره کړي .

دماښام له لمانځه وروسته خبریالانو له حقانی صاحب سره دمرکې هیله څرګنده کړه لومړی دنوای وقت خبریال له حقانی صاحب څخه پوښتنه وکړه چې : دخوست دفتحې په رابطه ستاسې نظریات څه دي اوداتلونکې له پاره دداډول جنګې ستراتیژي جوړولو څه پروګرام لری ؟

حقانی صاحب وویل : دخوست په فتحه کېدو مجاهدین علی العموم داسې دی لکه یو نوی روحانی قوت یې چې پیدا کړی وی ، څکه خو زیاترو جبهاتو دخوست دجنګي ستراتیژۍ اوجګړې په پیروی جنګی پلان ګذاری،شروع کړې اودداډول یو مخیزو عملیاتو له پاره یې متحدانه کار پیل کړی دی .

داسې معلومیږی لکه دجهاد دپیل جذبه چې له سره راپیدا شوی وی .اوس دپکتیا ، غزنی او شاوخوا مجاهدینو یوه شورا جوړه کړی غواړی په غزنی،لوګراو پکتیا دمشترکې حملې لپاره تصمیم ونیسی اودهمداسې یوې واحدې قوماندې اطاعت وکړی ، پدې ډول دخوست فتحه دراتلونکو فتوحاتو یو دروازه ګڼلی شو

نوای وقت :

تاسې دجهاد په رابطه دعالم اسلام په موقف مطمئن یاست که څنګه ؟

حقانی صاحب :

دروسانو له وتلو سره دنړیوال کفر دګډو سازشونو له مخې داسې منفی تبلیغات اوهلې ځلې شروع شوی چې دهغې له امله یې داتأثر رامنځ ته کړ چې په مرستو یې هم اغیزه وکړه تردې چې ۸۰ فیصده کومکونه قطع شول خو په مقابل کې روسانو دکابل رژیم ته دپوځې اومالی مرستو سلسله له پخوا څخه هم زیاته کړه .مخکې روسانو دکابل رژیم سره دمیاشتې دوه نیم ملیونه ډالره مرسته کوله چې بیا دری نیم میلونه ډالرو او تیرکال څلور نیم ملیون ډالرو ته ورسیده. ددې په څنګ کې داتبلیغات هم کیدل چې دافغانستان مسئله دجنګ له لاری نه حل کیږی خو دخوست له فتحې وروسته وضعیت بالکل بدل شو اوداپروپاګند اوحربه چې مجاهدین لوی ښارونه نشی نیولی له کاره ولویده .

دکابل رژیم له پاره خوست ډیر اهمیت درلود نجیب دادځان نه ماتیدونکی ښنګر ګاڼه اوویل یې که خوست مجاهدین ونیسی زه به دکابل حکومت پریږدم – نجیب خوست ولایت اعلان کړی ؤ اوله کابل وروسته یې دوهمه درجه اهمیت درلود چې له فتحې وروسته نجیب دماتم اعلان هم وکړ .

نوای وقت :

تاسې دامریکا له موقف څخه مطمئن یاست که څنګه

حقانی صاحب وویل :

زموږ جهاد دچا دمرستو اومواقفو په نظرکې نیولوله مخې ندی پیل شوی اوس خو دخدای په فضل دخوست په فتحې سره ډیری وسلې اومهمات مجاهدینو په غنیمت ونیول اوکولی شی په ډیر قوی جنګ کې تری مؤثره استفاده وکړی .

نوای وقت :

روس اوس اوس په مذاکراتو اوخبرو ډیر زور کوی دپاکستان دقاضیانو کوم هیئت چې روس ته تللی وو هلته یې ورته پدې خبره ډیر ټینګار کړی ؤ چې تاسې له مجاهدینو سره دخبرو او دبندیانو دخوشی کولو په رابطه مرسته وکړی.تاسې پدې هکله څه نظر لری ؟

حقانی صاحب زیاته کړه:

داډول خبری ماته بی معنا ښکاری ،دروسانو دبندیانو شمیر په سلګونو دی خو دمجاهدینو په زرګونو بندیان ورك دی ، روسان اوس هم نجیب ته وسلې ورکوی ، په اسعد اباد او نوروسیمو سکډ توغندی ولی په داسې حالاتو کې دمذاکراتو پیشنهاد یو سیاسی مانور او دوکه ده.

نوای وقت :

تراوسه دافغانستان څومره ساحه دمجاهدینو په واك کې ده؟

حقانی صاحب وویل :

په هیواد کې تقریباً ۲۷۰ حکومتی مرکزونه (ولسوالی ، علاقه داری) دی له ولایتونو څخه پکتیکا ، ارزګان ، بامیان ، کنړ او خوست (چې هغه ته یې هم دولایت درجه ورکړی وه) دمجاهدینو په واك کې دی دنورو هم یواځې مرکزونه دړژیم له قواو سره دی اوس. له ولسوالیو څخه ۲۱۵ ولسوالۍاو علاقه داری دمجاهدینو ترکنترول لاندی دی .

مجاهدینو تراوسه دلویو ښارونو دنیولو کوم جدی اقدام نه ؤکړی په خوست کې موږ ددوو دوه‌نیمو کلونو راهیسې دمحاصرې کړی‌ورو ورو تنګوله ، موږ په ولسی استوګنو ډزی نه کوو، رژیم له ولسی خلکو دسپر اوډال په توګه استفاده کوی،موږ په خوست کې ډیر کوښښ وکړ اودولسی خلکو له پاره مو یوه لار پرانستې پریښوده په هغه لوری مو هیڅ ډزی ونه کړی اوله همغې لاری خلك راووتل خو په نورو سیمو کې داکار مشکلات لری .

پدې پسې دجنګ خبریال خپله لومړی پوښتنه داسې پیل کړه

تاسې دجهاد له موجوده رفتار څخه مطمئن یاست که څنګه ؟

حقانی صاحب وویل : الحمد لله بالکل مطمئن یو.

جنګ

پدی رفتار که جهاد جریان ولری په څومره وخت کې به مجاهدین کابل فتحه کړی؟

حقانی صاحب وویل :

دغیب علم الله تعالی سره دی،فتحه اونصرت هم دالله تعالی له طرفه ده ، زه دومره ویلی شم چې په خوست کې ددښمن دملاتیر مات شوی مجاهدینو ډیر لوړ رتبه افسران اوجنرالان اوپه زرګونو پوځیان ژوندی ونیول مخکې دوی تبلیغات کول چې مجاهدین له اسیرانو سره ناوړه رویه کوی خو دخوست په فتحې سره یې داتبلیغات بی اثره شول

موږ دراتلونکې له پاره پر نورو ستراتیژیکو ځایونو دحملې پلان تر لاس لاندې لرو امیددی چې ډیر ژر دهمداسې یو مخیزو اومشترکو عملیاتو له لارې مجاهدین ګردیز ، غزنې اولوګر هم فتحه کړي

سره صلیب او نور و نړیوالو خیریه اوبشری مؤسساتو له دغو بندیانو سره ولیدل او مرکې ئې ورسره وکړی له بندیانو څخه یې خطونه واخیستل سره صلیب اعتراف وکړ، چې مجاهدینو له بین المللی مقرراتو څخه هم زیات له بندیانو سره نیك او اخلاقی چال چلند کړی .

زه دومره ویلی شم چې اوس دنوی لمریز کال دوهمه میاشت ده زما امید دی چې له ژمی مخکې به ان شا الله دکابل مزدور رژیم له منځه ولاړ شی .

جنګ :

افغان عبوری حکومت شته اوکه ختم شوی ؟

حقانی صاحب وویل : زه په سیاسی موضوعاتوکې مداخله نه کوم دا دسیاسی مشرانو کاردی خو دومره ویلی شم چې ددغه حکومت دپه رسمیت پیژندلو ضرورت هغه وخت ؤ چې حکومت جوړشو اوس خو سیاسی لیډرانو خپله کمزوری کړی ، او هغه چانس یې اوس له لاس څخه وتلی ، څکه هر شی یو وخت لری دوخت په تیریدو سره دهغه شی اهمیت ته هم صدمه رسیږی .

جنګ :

داسې اوازې خپری دی چې نجیب او ځینی نور اړخونه دافغانستان دکشالی په رابطه دمفاهمې هلې ځلې کوی .

حقانی صاحب :

موږ یوه اعلامیه خپره کړی چې په هغه کې ستاسې پوښتنې ته هم ځواب ویل شوی (اعلامیه موږ په همدغه ګڼه کې خپروو)

جنګ :

دجلال اباد دجګړی دعدم موفقیت عوامل څه وو ؟

حقانی صاحب :

دې خبری څو عوامل درلودل :

۱–زه ګومان کوم چې دجلال اباد جګړه په پیښور کې دقیادتونو له خوا قومانده شوی وه اویې لدې چې دجګړې دډګر قوماندانانو کومه ستراتیژی جوړه کړی دجګړې دپیل قومانده ډیره عجولانه توګه ورکړی شوه .

۲– جلال اباد ته هوایی اوځمکنی لاری پرانستې پاتې وی که څه هم ځمکنۍ لار دڅه وخت له پاره بنده شوه خو دجګړې په جریان کې لار بیرته پرانستل شوه

۳– هوایی ډګر تر برید لاندی نه ؤ چې الوتکې له کوزیدو څخه پاتې شی اومیدان له استفادې څخه ولویږي .

٤– هلته دجبهه یې جګړی تجربه اوسابقه نه وه، پداسې حال کې چې په خوست له څو کلونو راهیسې جبهه یې جګړه روانه وه .

٥– مجاهدینو دخپل پرمختګ په وخت کې قوی مرکزونه او پوستی جوړی نشوای کړی چې له همدې امله به کله ناکله له فتحه شویو ځایونو څخه بیرته په شا کیدل ، پداسې حال کې چې په خوست کې چې مجاهدینو کوم ځای فتحه کړی هلته یې یو قوی مرکز جوړکړی بیایې هغه سنګرونه ټینګ ساتلی اوبیا ندی په شا شوی په خوست کې دیوی اوږدې او دوامداره محاصرې له امله دړژیم قواوې ورځ په ورځ کمزوری کیدې خو په جلال اباد کې بیله دی چې دړژیم قواوی دداسې یوی اوږدې او دوامداره محاصرې له امله دومره نه وې کمزوری شوی .

ماښام بیا دشان اسلام جومات وروڼو له خواغونډه جوړه شوی وه اودخوست دفاتح په ویاړ میلمستیا کې دجومات ټولو لمونځ کوونکو ته دعوت ورکړشوی وو– له ماښامنۍ وروسته حقانی صاحب دجهاد دمختلفو ابعادو ، دخوست دفتحې اودمجاهدینو دراتلونکو پروګرامونو اوستراتیژۍ په رابطه دوروڼو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل .

پر کابل دحملې په هکله دیوی پوښتنې په ځواب کې حقاني صاحب وویل : پر کابل له حملې مخکې داضروری ده چې یوه متحده اداره جوړه کړی شی دامنیت او نظم لاری چاری وسنجول شی چې دهرډول ګډوډۍ اوبی نظمۍ مخه ونیول شی اودمجاهدینو ترمنځ کوم جنجال پیدانشی پدی توګه باید دهری برخې لپاره مسوولین وټاکل شی بیا نو هلته پر کابل حمله ترسره شی .

په خوست کې موږ همداسې یوه مشترکه اداره جوړه کړه ، او دګردیز لپاره موهم داسې یوه مشترکه اداره جوړه کړی ده .

زه فکر کوم پر کابل دحملې له پاره داسې یو پروګرام ندی تکمیل شوی–حمله خو هر وخت کیدی شی خوچې مشترکه اواتفاقی بڼه ونلری زما په خیال نتیجه به یې دومره مطلوبه نه وی .

یوبل تن پوښتنه وکړه :

په خوست کې دمجاهدینو اتحاد هماغسې ټینګ دی که څنګه او آیاپه نورو برخو کې داکارکیدی شی اوپر کابل دداسې یوې مشترکې اداری تر قوماندې لاندې دحملې کوم پروګرام شته که څنګه ؟

حقاني صاحب په لنډو ټکو کې وویل :

جنګ دمجاهدینو کار دی په خوست اوګردیز کې داکار څکه موفق دی چې هلته سیاسی لیډران دومره مداخله نه کوی خوپه کابل کې دسیاسی قدرت لپاره هڅوی حتماً مداخله کوی که څه هم په جنګ دقوماندانانو اومجاهدینو اتفاق راځی خو په کابل کې سیاسی لیډران ضرور لاسوهنه کوی او دسیاسی قدرت دنیولو لپاره حتماً یو اقدام سرته رسوی خوپه خوست اوګردیز کې دا کار دومره ضرور نه ګڼی.

جنګ موږ متحد کولی شو خو ددوی دمداخلی په صورت کې دمشکلاتو

پاتي په (۷)مخ

دخوست په فتحې سره الله تعالی مجاهدینو ته دومره امکانات ...

راپیداکیدلو مخنیوی گران کار دی .
پوښتنه
محترم حقانی صاحب ! دراتلونکی لپاره دقیادتونو اتحاد اودټول هیواد په سطحه دیووالی کوم پروگرام ترلاس لاندې لری که څنگه ؟
حقانی صاحب وویل :
داتحاد په سطحه موږ په ټول افغانستان کی دقوماندانانو دسرتاسری شورا په نوم اتحاد ټینگ کړی دی ددغه شورا دریمه غونډه به په نژدې راتلونکی کی جوړه شی دتنظیمونو غړی، دهیواد مخور اوسپین ږیری ، سیاست پوهان او دهری طبقی خلك به پکی برخه اخلی اودټول ملت په سطحه به یوه ملی شورا جوړیږی ، داشورا به دیوی مشترکی اداری اوارگان په جوړولو ان شاالله موفق شی بیا نو کیدی شی هم په کابل دحملی پلان عملی شی اوهم نجیب مجبور کړی شی چی اقتدار پریږدی دنجیب پلویانو ته هم لکه په خوست کي عفوه اعلان کړي اوڅنگه چي سیاسي قدرت متحد شي نجیب یوه ورځ هم نشي پاتي کیدي .
دغه شورا که لازمه وگڼله بل عبوری حکومت به جوړکړی یابه موجوده حکومت ترمیم کړی چی دټولو اړخونو اوطبقاتو له پاره دقبول وړوگرځی .
پر گردیز دمجاهدینو مقدماتی عملیات پیل شوی اودعمومی اوستری حملی له پاره مجاهدین دموضع گانو او لارو په جوړولو او دمهماتو رسولو په طریقو کارکوی .

یوه تن پوښتنه وکړه چی دمجاهدینو داختلاف اصلی علت څه دی ؟
حقانی صاحب په ځواب کی وویل : اختلاف دمجاهدینو ترمنځ نه بلکی دلیډرانو ترمنځ دی په داخل کی هم چي کله ناکله کوم اختلاف داغوښتنه شوی خو موږ ته خوست ډیر مهم ؤ زه فکر کوم چی دسنگر مجاهدین به هلته نه وی لیږل شوی بلکی یولږ شمیر مهاجرین لیږل شوی اوگومان کیږی چی دی کار به سیاسی بڼه لرله.
یو تن وویل : ځینی خلك

> خوست ډیره لویه منطقه ده چی مساحت یی په کویټ څخه زیات دی او دوسایلو له اړخه دټول هیواد په سطحه ډیره غني اوبراخه سیمه ده

راپیدا کیږی دهمدغو لیډرانو دلاسوهنو له اړخه راپیداکیږی .
یوه بل تن پوښتنه وکړه خلیج ته دمجاهدینو لیږل تاسی څنگه گنی ؟
حقانی صاحب په ځواب کی وویل ماخپل مجاهدین هلته ندی لیږلی که څه هم له ما داسی تبلیغات کوی چی دروسانو له وتلو وروسته هلته وروړ وژنه روانه ده پدی هکله تاسی څه نظر لری ؟
حقانی صاحب وویل : زموږ شاته داسی څوك اوقوت نشته چی هغه دی موږ په جنگ مجبور کړی موږداجنگ بڼه پیژنو داجنگ دمسلمانانو ترمنځ ندي بلکي دکمونستانواومسلمانانو ترمنځ دي دادکویټ عراق یا ایران عراق ترمنځ جنگ ندی هلته ددغو هیوادونو پوځیانو پخپله جنگ نه کاوه بلکی حکومتونو جگړی ته مجبوررول خو زموږ ترشانه حکومت شته چی په جنگ مو مجبور کړی اونه کوم بل قوت .
دیوی بلی پوښتنی په ځواب کی چی که امریکا او نور هیوادونه خپلی مرستی قطع کړی تاسی به جهاد ته څنگه دوام ورکوی حقانی صاحب وویل :
دلته چی ما ولیدل دټولو په ذهن کی دکومك اوقدرت مرکز روس یا امریکا گڼل کیږی خو زه وایم چی افغانان دالله تعالی په لار کی جهاد کوی اوس تاسی ووایی چی افغانانو ته به الله تعالی ډیر نژدی وی که امریکا ؟ که داجهاد دالله تعالی په لار کی وی نو الله پاك به یی مرسته کوی او موږ لدی ناحیی هیڅ اندیښنه نلرو .
موږ په خوست کی دومره جنگی وسایل په غنیمت نیولی چی که بل څوك ورته ضرورت لری مرسته ورسره کولی شو، هلته موږ داسی ذخیری پیداکړی چی ترځمکي لاندی یی جوړی کړی وی اودپاسه هیڅ نه معلومیدی اوواښه پری شنه شوی وو دتیلو ذخیری مو هم پیداکړی دی .
پدغه فتحه کی ۷ جنرالان ، ۳٦۰ لوی پوځی افسران ، ۲۵۰۰ پوځیان چی دملیشی په گډون یی شمیر له څلورو زرو هم اوړی مجاهدینو ژوندی نیولی .
۲۰۰ موټر - ۸۰ ټانکونه - ۱۰۰ لوی او ۱۰۰ واړه توپونه ، شل زره کلاشینکوفونه او نور ډیر مواد اومهمات مجاهدینو په غنیمت نیولی دی.
دیکشنبي په ورځ له غرمي مخکي په لسو بجو دجنگ فورم له خوا پروگرام جوړشوي ؤ اویوه ورځ مخکي یي په اخبارونو کي ددي اعلان هم کړي ؤ خو څرنگه چي حقاني صاحب ددوشنبي په ورځ په خوست کي دقوماندانانو شورا رابللي وه څکه خو یي ددوستانو اوخبریالانو داصرار سره سره معذرت وغوښت اودیکشنبي په ورځ دسهار په ۹ بجو پیښور اوله هغه ځاي څخه یي میرامشاه ته تشریف یوړ څو ددوشنبي په ورځ په خوست کي دجهادي شورا غونډی ته ورسیدلي شي .

دکابل رژیم هغه ادعا...

سخته جگړه روانه ده .
دخبر مطابق مجاهدینو دنظامی تاکتیك اودسیند داوبو دزیاتیدو له امله خپلی دری پوستی خوشی کړی خو درژیم قواو ته یي دځاني اومالي زیانونو داړولو نه علاوه ۳۵ تنه عسکر اوملیشه ژوندي نیولي دي .
همدغه رازمجاهدینو دتنگی واغجان ،محمدآغی ولسوالۍ ، زرغون ښار ، بابوس دښتی اوکلنگار ولسوالۍ په بیلابیلو سیمو کی جگړه روانه کړی او په ځینو محاذونو کي یي درژیم قواوی له ناکامۍ سره مخامخ کړیدی .
ریپوټ دکابل رژیم دادعوه چي دوی په محمداغی ولسوالۍ کی دلشکرایشار او نورو مجاهدینو مرکزونه نیولی دروغ گڼلی اوزیاتوی چی درژیم دالوتکو اونیمه سکلۍ توغندیوپه توغولو سره دعامه وگړو په وژنی او دابادی په تباه کولو لاس پوری کړی اوزیات مالی تاوان یی بزگرانو او اوسیدونکو ته اړولی دی .

سپرلیه...

یی بی شمیره هیواد وال شهیدان شوی او معیوب شوی وی .
اوته به هغه زړونه څنگه خوښ کړی چی ...
هو !
مثم چی :
داخوستا فطری خاصه اوځانگړنه ده چی مړژوانده طبیعت ته ژوند وربخښی او په طبیعی مظاهرو کی داوښتون سبب گرځی .
نوځکه موږداټولی بدمرغۍ ستاله شامته نه گڼو، اوداستا گناه نه بولو چی ځوریدلی ، زخمی اودردیدلی زړونه نه شی خوښولی اوپرټپونو یی دتسکین ملهم نه شی ایښودلی او ...
خودادردیدلی اوځوریدلی زړونه یوازی اویوازی یو پسرلی خوښولی شی .
پوهیږی چی کوم پسرلی هغه پسرلی چی موټول ملت ته دنیکمرغی اوازادۍ پیغام ولری .
چی په هغی کی موخپل برخلیك وټاکلی شو اوبیا خپلواکا ، مصئون اوسوکاله ژوند پیل اودخپلو ورانو ویجاړو درغاونی په هیله مخ په وړاندی لاړشو !!

سره کودتا اوزموږ ...

دورستی مفکوری خاوندان بلل اودمترقی ځوانانو !! خبری یی کولی !
ماغزه یی هغه وخت ځای ته راغلل چی په لکاو افغانی غازیانو دملی جلبی ، قامی احساس دننگ اوغیرت په مینه مست ځانونه تراسلام اوافغانستان جارکړل د«۱٦» لکونه زیات شهیدان اوپه لکاو معیوبین یی په همدی خاطر ورکړل چی باید یواځی اویواځی اسلام په موږحاکم وی دوبیښ ضمیر لوړو تدبیرونو اوعالی افکارو همدغه خاوندان ؤ چی دهجرت په شمول یی داسلام دسرلوړی،پت غیرت اودخپل استقلال ددوباره ترلاسه کولو لپاره هره ناخواله اونادوده دسرپه سترگو ومنله اودخپلی اسلامی جهادی مبارزی څخه یی مخ په شانکړ اوداځکه چی دسوچه عقیدی مسلمانان دخدای پاك په لاره کی په جهاد کولو سره خپل ابدی اودنیاوی ژوند روښانه اوځلانده وینی اوهمدغه عقیده وه چی نن دپرله پسی بریو اوکامیابیو زیری اوری .اوبرسیره پردی نن دگردی نړۍ مسلمانان هم دهمدغو بی وسو افغانانو په کارنامو فخرکوی اودخپلو سرو تاجونه یی گڼی اوداځکه چی همدوی دخپلو پخوانیو اسلافو اسلامی تاریخ یوځل بیا راژوندی کړاونړۍ ته یی وښوده چی دمسلمان سرداالله تعالی دحضور څخه پرته دبل چاپه وړاندی نشی ښکته کیدای.مرگ قبلولی شی خوغلامی نه، نو همدغه عقیده وه چی دبهی دینو کمونستانو اوروسانو په مقابل کی چاچی ددوی سره مقابله کوله یو احمقانه کاربللو راپاڅیده اوپه یوه اسلامی جهادی مبارزه یی لاس پوری کړ ترڅو دافغانستان څخه دباطل جرړی وباسی اودخدای پاك نظام حاکم وگرځوی : اواوس به زموږ دغه جهادی مبارزه ترهغی پوری جاری وی ترڅو چی دافغانستان په سمه اوغر داسلام توغ نه وی رپیدلای.

بسم الله الرحمن الرحیم

دخوست دجهادی شورا اعلامیه

لکه چی نړیوالو ته هم څرگنده ده چی دخوست فتحی دافغانستان پرقضیه ژوره اغیزه وکړه اودیولړ بنیادی تحولاتومخه یی پرانستله – له همدی امله موږ دالازمه وگڼله چی پدی هکله څنی مهم اوضروری ټکی اعلان کړو :
دخوست له فتحی وروسته په نړیواله سویه دافغانستان دقضیی دسیاسی حل هنگامه یو ځل بیا توده کړی شوه – خولکه چی اوریدل کیږی که دا سیاسی حل دنجیب له مزدور رژیم سره دگډ حکومت اویا دهغه دوطن ملحد گوند دپه رسمیت پیژندلو په جهت کی وی نه یواځی داچی دافغانستان دقضیی حل اودجگړی دپای ته رسیدو لار نشي اوارولی بلکی په بشپړه توگه غیر عملی اومحال هم گڼل کیږی .
خوکه داحل پدی معنی وی چی نجیب نظامی اوسیاسی قدرت پریږدی اودخوست له فتحی وروسته چی درژیم دملاتیر اودنجیب ډیرستر نظامی اوسیاسی شکست دی بی له قید اوشرط له صحنی څخه ووزی دمجاهدینو دقبول وړگرځیدلی شي .
څکه دجگړی دوام منشاء اوباعث دنجیب مزدور رژیم دی اوچیری هم چی درژیم بقایا وی له منځه تللی جگړه هم ختمه شویده ، څکه خو موږ په ډاگه کوو چی دجگړی ددوام دعامل اوعلت په له منځه تلو سره دجنگ داورلمبی هم سړیدلی شی .
په خوست کی دنیول شویو نظامی افسرانو په رابطه هم لیدل کیږی چی دځینو غیر مطرحو اوبی مسوولیته اړخونو له خوا په اصطلاح دیپلوماتیك فعالیتونه په لار اچول شویدی ، څکه خو په سیمه کی دجنگیالی قوتونه اعلانوی چی داسیرانو په هکله باید دخوست له شوراسره چی دجگړی اوفتحی زمام یی په واك کی دی مستقیمی خبری وشی له جنگی اسیرانو سره دټولو بین المللی اصولو اومقرراتو له مخی بلکی له هغی څخه په زیات اخلاقی بنیادچال چلند شوی – سره لدی چی دااسیران دمحاکمی وړاوجنگی مجرمان بلل کیږی له محاکمی څخه پرته دمیلمنو په توگه استقبال شول اوددوی سرونو اومالونو ته هیڅ ډول تاوان ونه رسید چی زموږ داخبره دسره صلیب نړیوالی موسسی له دغو اسیرانو سره دخپلو لیدنو کتنو وروسته تائید اوڅرگنده کړی هم ده .
داچی ځینی استعماری حلقی په خوست کی دچور اوچپاول اوبی نظمی پروپاگند کوی موږ مخکی هم اعلان کړی اویو ځل بیا په ډاگه وایو چی هره بین المللی اداره اوسازمان کولی شی راشي دخوست امنیت معاینه کړی – هغوی به په خپلو سترگو وگوری چی دجنگ په جریان کی له تخریب شویو پوځی تاسیساتوپرته بیا نور هیڅ ځای ته (درژیم له بمباری اوسکډ نه علاوه) کومه صدمه نده رسیدلی .نړیوالی موسسی کولی شی له جنگی اسیرانو سره چی ۷ تنه جنرالان له ۲۵۰۰ تر ۳۰۰۰ تنو پوری پوځیان اوافسران اودملیشا وپه گډون یی ټول شمیر تقریبا ۵۰۰۰ تنو ته رسیږی ، مستقیما ووینی. مرکی ورسره وکړی اودکډوالو اوزخمیانو حالت هم ورگوری چی دمجاهدینو له خوا څومره سهولتونه ورته برابر شویدی .
موږیو ځل بیا اعلانوو چی جنگی اسیران دمجاهدینو سره دمیلمنو حیثیت لری اوسره لدی چی دوی مجاهدینو ته په کومه مفاهمه اوارتباط ندی تسلیم شوی اودنجیب وفادار ملگری گڼل کیږی بیا هم دپخوانیو اعمالونه له محاکمی خلاص گڼل شوی البته ددوی دمستقبل – ازادۍ اومحاکمی خبره دنجیب دمزدور رژیم اوروسانو عکس العمل پوری اړه لری .

روز تجدید پیمان جهاد...

درکشور پرداختند .
ظلم وبربریت این نوکران زرخرید مسکوموجب شد تامردم مسلمان افغانستان موضعگیری خاص اسلامی وافغانی خود را داشته باشند ، ازانجایکه چهره ناپاك ووطنفروشانه کمونستان به همه مردم ما افشا بود وازجانبی نیز درانداك مدت با وحشیانه ترین عمل شان ثابت کردند که انها نوکران زرخرید مسکو وکمونیزم اند مردم با چوب و چماق ودست خالی در برابر این جانیان به صف ارایی علنی پرداختند دروقت کم هزاران هزار وملیونها افغان مسلمان درصف اسلام وجهاد قرار گرفته باتبارز شهامت اسلامی وشجاعت افغانی کمونست ها این جیره خواران مسکو را دوروطه شکست وسقوط قرار دادند.
درین هنگام بود که ملعونان کرملین ظاهرا بخاطر نجات این نوکران خود ازشکست حتمی توسط مردم افغانستان بخاك افغانستان بیش ازیکصد وبیست هزار عسکر خون اشام خود رافرستادند البته این ظاهر امربود ولی روسها ازصده هجده بدینسو درارزوی اشغال افغانستان ودسترسی به ابهای گرم بحر هند بودند بناءکودتای کمونستی هفتم ثور کمونست ها درافغانستان هم حلقه ازین زنجیر استعماری روس بود .
روسها به لشکر کشی خود بخاك افغانستان چنین تصور داشتند که دیگر انها درتطبیق خواب وخیال دوصد ساله شان موفق شده اند و عربده سرمی دادند که روسها اراضی وملك رایکبار وبرای ابد اشغال می کنند .
یورش روسها به کشور ما مردم مسلمان مارا درجهاد مقلس هرچه بیشتر مصمم ترو راسخ تر ساخت انها در مجادله ومقابله با روسهای اشغالگر ازایثار جان ومال دریغ نورزیده وباین ترتیب درطول تاریخ نمونه جدید از مقاومت دربرابر قوای اشغالگر را به تاریخ جنگها ونهضت های ازادی خواهی ارائه نمودند و با الهام ازین الگوو نمونه بود که در تمام کشور های تحت ستم کمونستی جنبش مقاومت تولد وبه پیروزی رسید .
افغانهای مسلمان ومجاهد قوای اشغالگرروس رابه شکست ننگین مواجه ساختند وازهمین سبب بود که بالاخره حکومت درحال نزع کمونست ها رابجا گذاشته پا به فرار گذاشتند .
ملت مجاهد ومسلمان ما ازتاریخ هفت ثور ۱۳۵۷ اگاهانه دربرابر کمونست های ملحد ورژیم منفور کمونستی که انها میخواستند برمردم ما حاکم بسازند قیام نموده اند لذا قیام مردم ما دربرابر رژیم ملحد کابل اگاهانه وعقیدتی است نه تصادفی واحساساتی .
قیمتی راکه مردم افغانستان تاحال بخاطر نجات کشور ما ازیوغ کمونیزم پرداخته اند درصده بیست بی مانند بوده لذا ملت افغان روی ارمان وهدف خاص به جهاد برخاسته است که عبارت ازایجاد یك حکومت اسلامی درافغانستان میباشد .
ازدوسال باینطرف که رژیم ضد مردمی راروسها درکابل بپاایستاده نموده وبا کمك های فراوان نظامی واقتصادی انرا علیه مردم افغانستان می جنگانندنمونه دیگری ازمداخله گری روسها در امور افغانستان میباشد .
مجاهدین که در برابر روسها با عزم پولادین ایمان رزمیده بودند اطمینان داشتند که رژیم دست نشانده کابل را بزود ترین فرصت نابود خواهند نمود اما متاسفانه با تقویت روحیه خود خواهی وتوجه به منافع شخصی وتنظیمی ویا دراثر مداخله ازعقب پرده،نیروی قوی ودشمن شکن مجاهدین به ضعف گرائیده وروی همین نقص است که رژیم کابل که باتانك روسی برکابل حاکم ساخته شده بر گرده مردم ما هنوز هم سوار باقی ماند .
امروز که مردم ما روز کودتای کمونستی هفت ثور راتقبیح می کنند مجاهدین ما بار دیگر این عزم راسخ شانرا تکرار نمودند تا محو کامل بقایای کمونستی درکابل وقیام یك حکومت کاملا اسلامی سلاح شانرا بر زمین نخواهند گذاشت .
چنانچه الحاج مولوی جلال الدین حقانی درمیتنگی که به همین مناسبت در میرامشاه دایر گردیده بود طی بیانیه گفت : مسلمانان افغانستان تاهنگامی سلاح شانرا بر زمین نخواهند گذاشت که یك حکومت اسلامی طبق رضایت مردم مسلمان افغانستان بوجود نیامده باشد مردم افغانستان جهاد کردند قربانی دادند الذا حق دارند که حکومت مطابق علاقه خود را نیزداشته باشند .

صفحه ۳

اغاز نهضت تالیف وترجمه بخاطر ایجاد تحول عمیق فکری یك ضرورت است

اخیرا جهت بحث برروند تالیف وترجمه میز مدوری تحت عنوان «سیر تالیف وترجمه درافغانستان بعد ازجهاد» ازطرف شعبه تالیف وترجمه مرکز فرهنگی اسلامی افغانستان درتالار کتابخانه ان مرکز برگزار گردید .
دریك گزارش که مرکز فرهنگی اسلامی افغانستان به اداره جریده (جهاد هنداره) فرستاده امده است که درین نشست علمی وفرهنگی تعدادی ازدانشمندان ومحققین پیرامون جوانب مثبت ومنفی تالیفات وتراجم بعد از اغاز جهاد ، اولویات درتالیف وترجمه ، اسلوب واداب تالیف وترجمه ، تاثیر زبانهای دیگر برز بانهای دری وپشتو ونقش متراجم سخنرانی نمودند .
درگزارش امده است اشتراك کننده گان میز گرد باقدردانی ازکارهای مثمر انجام شده دربخش تالیف وترجمه ازطرف افراد و نهاد های جهادی ، تاکید ورزیدند که کارهای انجام یافته بسنده نبوده وبه نیازهای گسترده جامعه ما جواب کافی ارائه نمی کند.
سخنرانان تاکید نمودند که بدون ایجاد یك تحول عمیق فکری وفرهنگی واسلامی اعمار جامعه وحکومت اسلامی ممکن نبوده ونخستین گام درین جهت اغاز نهضت ترجمه میباشد .
اشتراك کننده گان میز گرد پیشنهاد نمودند اداره ومرکزی بخاطر هماهنگی وانسجام کارهای تالیف وترجمه درسطح جهاد ایجاد گردد تابخاطر بهبودی جریان تالیف وترجمه وضرورتهای جامعه ما کار عملی نماید .

دهیئت تحریر ترنظر لاندی
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي تاون پیښور
تیلفون : ... (٤١٧٤٦)

دکابل - پروان په نوی لاره کی دمزدور رژیم ۲ قرارگاوی له منځه ولاړی

درارسیدلو خبرونو له مخی دکوه صافی مجاهدینو داب دری ، اخ بلندی اودکابل ، پروان دنوی سرك په اوږدو کی دکمونست رژیم پوری مربوطی پوځی سیمی ددرنلو وسلو ترډزو لاندی ونیولی .
پدی برو کی درژیم دوه عرادی ټانکونه داور لمبه شول اوددی وسایطو پرسونل په هلاکت ورسید .
همداډول داخ بلندی په سیمه کی ددښمن دری کلکی قرارگاوی چی دسرپندی خانی په دریم کندك پوری تړلی وی دمنځنی واټن ویشتونکو موشکونو په توغولو سره بیخی له منځه وړی دی .
پدی برو کی مجاهدینو ته کوم زیان ندی رسیدلی .

اسرائیل اوهند په ګډه سره د پاکستان اتومی پلان له منځه وړل غواړی

اسلام اباد ، دثور ۷ مه :
په پاکستان کی دفلسطین سفیر داخبره په داګه کړه چی زه به ډیر ژر پاکستانی مقامات داسرائیلو دهغه سازش نه خبر کړم کوم چی دوی دپاکستان داتومی پلان د ختنشی کولو اوشنډولو لپاره جوړکړی دی .ده پخپلو خبرو کی دیاسر عرفات هغی وینا ته ګوته ونیوله په کومه کی چی نوموړی داسرائیلو دناپاکه عزائمو څرګندونه کړیده .
فلسطینی سفیر وویل دیوه مسلمان په صفت دازما فرض دی چی زه باید اسلامی هیواد پاکستان دهغو بیرونی سازشونو څخه خبر کړم کوم چی دامریکا هند او اسرائیلو لخوا په کار اچول کیږی ترڅو پاکستان پخپله خوا اوشانظر ولری اودبیرونی سازشونو څخه ځان وژغوری .

دجوزجان سرپل کی ٤ پوستی فتحه شوی

جوزجان ، میډیا :
دجهادی خبر چینو له قوله ویل شوی دی چی زړورو مجاهدینو دثور په ٦ نیټه دګډو عملیاتو په ترڅ کی چی ددښمن په پوستو یی ترسره کړل دجوزجان ولایت دسرپل ولسوالی پوری مربوط دتپمه دان په سیمه کی ٤ پوستی فتحه کړی .
ددی جګړی په لړ کی چی تراوسه هم په تندی سره روانه ده. مجاهدین وتوانیدل چی دمزدور رژیم ۲۵ تنه خادستان اوملیشیان ژوندی ونیسی اوهم یو میل دهشکه ، څلور میله د«ار ، پی ، جی - ۷ »راکټ انداز له څو صندوقه مرمیو اومهماتو سره په ولجه کی راولی .
دمجاهدینو دتلفاتو څخه تراوسه کوم خبر ندی ورکړشوی .

دهند دانتخاباتی مبارزی په لړ کی ٦ کسه ووژل شول

نوی ډیلی ، دثور ۸ مه :
دهند دپارلمان لپاره دانتخاباتی مبارزی په لړکی دیوی وژونکی حملی له امله ٦ کسه ووژل شول.
دغه حمله د« کانګریس ای » پارټی پریوه مخالف مشر باجپایی باندی هغه وخت ترسره شوه چی نوموړی دخپلی کاندیداتوری کاغذونه مربوط مرجع ته سپارل .
ویل کیږی چی حمله کوونکو دنوموړی کاندید پر موټر برید کړی ؤ ، خو دغه کاندید وکولای شول چی له پیښی څخه ځان ژوندی وباسی .
بل لوری ته دغه کاندید تورلګولی چی پرده باندی دغه وژونکی برید د« کانګریس ای » دپلویانو له خوا ترسره شوی .

دکویټ حکومت دخپل وسله وال پوځ دنوی کولو فیصله کړی ده

کویټ ، دثور ۸ مه :
دکویټ حکومت ددغه هیواد دوسله وال پوځ دنوی اوقوی کولوفیصله کړی ده ، اوددی مقصد لپاره پوځ دنوو کسانو دنیولو پروګرام ګړندی کوی اونوی تخنیکی او مډرنه وسله به لاس ته راوړی .
دکویټ حکومت ددفاعی چارو نوی وزیر شیخ « علی السالم » ددی مطلب په بیانولو سره زیاته کړی ده چی پوځ ته دنوو افرادو دنیولو پروګرام به ګړندی کیږی اوپوځ ته به په نویو طریقو سره تربیت ورکول کیږی .
د یوبل‌خبر مطابق دکویټ حکومت چی دامریکا دمتحده ایالاتو سره دوسلی داخیستلو کومه لوظنامه امضاءکړی دهغی قیمت لس ها و کروړه ډالرو ته رسیږی چی نوی جنګی الوتکی او میزائیل هم پکی شامل دي.

دګردیز پرمحاصره شوی ښار ددرنو وسلو بریدونه

ګردیز ، دجهاد هنداره :
دالحاج مولوی جلال الدین حقانی دجبهاتو څخه دجهاد هنداری اداری ته په رارسیدلی خبرکی چی دهغه دمرستیال مولوی نظام الدین حقانی له خوا رااستول شوی ویل شوی چی باتورو مجاهدینو دګردیز ښار په شاوخوا کی ددښمن پر امنیتی پوستودخپلو درنو وسلو بریدونه پیل کړی .
خبر زیاتوی دهغه برید په ترڅ کی چی دثور میاشتی په شپږمه نیټه ، پدغه پوستو ترسره شو، مجاهدین وتوانیدل چی یوه پوسته فتح اودمزدور رژیم ٦ تنه ملیشه ژوندی ونیسی .
همدارنګه مجاهدینو ددغه پوستی څخه (۱۰) میله درنده اوسپکه وسله دیو شمیر مهماتو سره ولجه کړی ده .

په لغمان کی درژیم ٦ تنه مجاهدینو ته تسلیم شول

دقوماندانانو شورا نظامی دفتر رپوټ ورکړی چی دثور په ٤ مه نیټه دلغمان ولایت مرکز مهترلام ښارله کمربندی پوستو څخه دګوډاګی رژیم ٦ تنه پلویان دمجاهدینو دبریدونو په لړ کی دخپلو وسلو اومهماتو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی.
رپوټ زیاتوی چی پدغو بریدونو کی مجاهدینو ته کوم زیان نه دی رسیدلی .

دمؤقت حکومت دعامی روغتیا وزیر ګوښه کړی شو

دخپروشویو خبرونو له مخی ویل کیږی چی دافغانستان دمجاهدینو دمؤقت حکومت، دعامی روغتیا وزیر نادر خرم دجناب حضرت صاحب صبغت الله مجددی له خواګوښه کړی شو.
دمعلوماتو له مخی دنوموړی دګوښه کیدو علت په مربوطه چارو کی دهغه عدم موفقیت اوپه هیواد کی دروغتیایی فعالیتونو رکود اوځنډښودل شوی چی له تیرو دووکلونو راهیسی دده دتصدی په موده کی منځ ته راغلی اویوه ستره خلاوبی نظمی یی رامنځ ته کړی وه دخبر مطابق دنوموړی وزارت سرپرستي ډاکتر ذبیح الله مجددی ته سپارل شوی دی .

اسد الله سروري با ولچك وزولانه درپای محاکمه قرار گرفته است

اسدالله سروری سابق معاون صدراعظم رژیم کابل که دریکی از محابس هند بجرم نداشتن اسناد قانونی سفر محبوس میباشد درین اواخر به پای محاکمه کشانیده شده خواهد شد .
طبق اطلاع مطبوعات ،قانون هند برای همچو افراد پنج سال حبس رامقررنموده است.
گزارشهای مطبوعاتی حاکیست اسدالله سروری که طراحی کودتای ناکام سال گذشته علیه نجیب رئیس رژیم کابل رابه عهده داشت یکماه قبل از آن واقعه به دهلی جدید رسیده ودرراه عزیمت بکابل توسط یکی از ایجنت های رژیم کابل شناسایی واسناد قانونی سفر وی قید گردید .
یکی از خبرنگاران گفته است سروری درحالیکه دست وپایش باولچك وزولانه بسته بود به محکمه اورده شد ، وی به خبرنگارمذکور گفته است که رئیس رژیم کابل اورا بحیث دشمن بزرگ تلقی می کند . سروری درهنگام قدرت طاغوتی تره کی -امین رئیس دستگاه جاسوسی رژیم بود که برعلاوه قتل وکشتار وحشیانه هزاران هموطن مسلمان ما تعدادی ازپرچمی های بی دین رانیز شخصاً شکنجه وکشته است .
رژیم کابل موصوف رابه جرم دست داشتن در کودتای ناکام سال گذشته غیاباً به اعدام محکوم نموده است .
گزارش های مطبوعات حاکیست که حکومت هند سروری راهنگامی محبوس ساخت که وزیر خارجه رژیم کابل دررابطه باحکومت هند تماس گرفت .